(کله دې چې یو دینار دې د الله په لاره کې مصرف کړی وي، یو دینار دې د غلام د آزادولو لپاره مصرف کړی وي، یو دینار دې مسکین ته ورکړی وي او یو دینار دې پر خپلې کورنۍ مصرف کړی وي— نو له دې ټولو هغه دینار ډېر اجر لري چې پر خپلې کورنۍ دې مصرف کړی وي)

له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (کله دې چې یو دینار دې د الله په لاره کې مصرف کړی وي، یو دینار دې د غلام د آزادولو لپاره مصرف کړی وي، یو دینار دې مسکین ته ورکړی وي او یو دینار دې پر خپلې کورنۍ مصرف کړی وي— نو له دې ټولو هغه دینار ډېر اجر لري چې پر خپلې کورنۍ دې مصرف کړی وي).

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د نفقې ځینې قسمونه ذکر کړل وېې فرمایل: یو دینار چې ته یې د الله په لار کې مصرفوې، یو دینار چې ته یې د غلام آزادولو لپاره ورکوې، یو دینار چې ته یې مسکین ته صدقه ورکوې او یو دینار چې ته یې پر خپل اهل (کورنۍ) مصرفوې — نو د الله تعالی سره تر ټولو زیات اجر لرونکی دینار هغه دی چې ته یې پر خپلې کورنۍ، اولادونو او هغه چا مصرفوې چې نفقه یې ستا تر غاړې وي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5813